# زېری

علمي- څېړنیزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جریده     د تاسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

یکشنبه، (۱- ۲مه) ګڼه، دریمه دوره، پرله‌پسې (۳۴۵- ۳۴٦مه) ګڼه، د ۱۳۹۹ل.کال د حمل (وري) د میاشتې ۳۱مه، د ۱۴۴۱هـ.ق. کال، د شعبان د میاشتې ۲۵مه او د ۲۰۲۰ز.کال، د اپریل ۱۹مه.


که څوک پیدا شي چې عدل و داد کا
غـوږ د درمنـو پـه داد فریـاد کـا
چـې مقـرب دي عـرض یـې لګـېږي
عمر یې ډېر شه خوشحال دې یاد کا

خوشحال خان خټک

## د پښتو ادبي تاریخ د څلورمې دورې په باره کې

سرمحقق زلمی هېوادمل



د څو کلونو را په دې خوا د کابل پوهنتون او ورسره ننګرهار پوهنتون د پښتو ماسترۍ په کورسونو کې کله کله محصلان پوښتنه کوي چې آیا د طالبانو له سقوط وروسته چې په هېواد کې کوم حاکمیت او حالات رامنځ ته شول، لازمي ده چې دې نویو حالاتو پر ادبیاتو ضرور خپل اثرات پرې ایښي دي؛ نو څکه ویل کېږي چې د همدغو ادبي تحولاتو په نتیجه کې د پښتو ادبي تاریخ څلورمه دوره پیلېږي؟ البته ما له خپل وس او درک سره سم پوښتونکیو ته خپل ځوابونه ویلي دي، خو میاشت د مخه له سرمحقق دوکتور سید محي الدین هاشمي سره له جلال اباده کابل ته پر لاره ملګری وم، د ادبیاتو او فرهنګ شاو خوا کې مو له هره بابه خبرې کولې. د خبرو په ترځ کې ده هم د پښتو ادبي تاریخ د څلورمې دورې موضوع مطرح کړه، ده ته مې هم خپل نظر څرګند کړ، خو ورسره دا فکر راته پیدا شو چې د پښتو ادبي تاریخ د څلورمې دورې په باب خپل نظر زېري ته ولیکم. د رواني هجري شمسي پېړۍ له لومړیو لسیزو زموږ مشرانو ادبپوهانو له خپلو برداشتونو سره سم د پښتو ادبي تاریخ لپاره ادبي دورې ټاکلې دي، تر دوی وروسته نورو ادبپوهانو هم دا کار کړی دی. د دې ډول دوره بندیو موجودیت ته یو منطقي ځواب دا وړاندې کېدلای شي چې په اجتماعي علومو کې پر موضوعاتو اجماع (consensus) نشته، هر څوک کولای شي له یوې موضوع، یوې نظریې یا طرحې سره اتفاق وښیي یا یې رد کړي. زما په پوهه په دې ټولو وړاندې شویو دوره بندیو کې مرحوم کاندید اکاډمېسن محمد صدیق روهي چې د پښتو ادبي تاریخ لپاره کومه دوره بندي وړاندې کړې او د (ادبي تاریخ میتودولوژي ) نومي اثر کې چاپ شوې ده، د پښتو د ادبي پدیدو د رشد له عیني واقعیتونو او د ادبي تاریخ لیکنې له اکاډمیکو معیارونو سره برابره طرحه ده. ۳مخ

## د ژبې په زده‌کړه او ژوند کې د متونو اهمیت

څېړنپوه مولاجان تنیوال



په یوه متن کې مې تر سترګو شول چې متون د ژبې په زده کړه او راژوندي کولو کې رغنده ونډه لري. زه په دې لیکنه کې په متن او متونو باندې خبرې نه کوم، ډولونه یې نه یادوم او په خصوصیاتو او ځانګړنو باندې یې هم نه غږېږم. دا یوه ځانته موضوع ده او که څوک غواړي کولای شي چې اوږده او ښه لیکنه پرې وکړي.

د ژبپوهنې د اصولو له مخې د یوې ژبنۍ تشریح او څېړنې لپاره سیندونه، پښنویې او نور اړوند توکي خورا مهم او اړین دي، څکه چې د دوی په مرسته په یوې ژبې پورې اړوند متون په ډېرې اسانۍ سره لوستل کېدای او د پوهېدو وړ ګرځي. دا ډول امکانات نه یواځې دا چې یوه ژبه د مرګ له کومې څخه راوباسي؛ بلکې د سیاسي، اقتصادي، کلتوري... واک پر ګدۍ یې هم کېنوي، خو د دې په خوا کې یو بل فکټور هم ډېر اړین دی او هغه د یوه دولت تشکل دی. د دې څرګندونې د اثبات ډېر روڼ او واضح دلیل عبري ژبه او د اسرائیلو د دولت جوړېدل دي. دا ژبه د مړو ژبو له ډلې څخه ګڼل کېده، خو دا چې متون، سیندونه او پښنویه یې موجود وو په لومړي سر کې یې دې ژبې ته د بیا زده‌کړې شرایط برابر کړل، له هغه وروسته یې په ژوندیو ژبو ورګډه کړه او کله چې اسرائیل د زور له لارې د یوه دولت په توګه د نړۍ پر مخ را څرګند شول هماغه مړه ژبه (عبري) د دولت، زده کړې، خپرونو، رسنیو او مطبوعاتو ژبه شوه او تر هغې پورې به همداسې وي تر څو پورې چې اسرائیل همدارنګه په قدرت کې وي.

کېدای شي چې یو شمېر نورې مړې او متروکې ژبې به هم دا ډول امکانات ولري خو عمده او اساسي توپیر یې دا دی چې د عبري ژبې په شان بخت او طالع نه لري. ما دلته د عبري ژبې یادونه څکه وکړه چې زموږ د مدعا د اثبات ډېره ښه او ژوندۍ بېلګه ده. د یوې ژبې د متونو شتوالی د هغې د بقا لپاره د بنسټ د ډېرې غوندې دی او که دې اړخ ته د مسؤلیت د احساس له مخې پاملرنه وشي شونې ده چې ډېرې ژبې به د ورکېدو څخه وژغورلې شي او په دې وسیله به د یوې ټولنې د تاریخ، مدنیت او کلتور د بېلابېلو اړخونو د څېړلو، پېژندلو او دوام لړۍ پیاوړې او تلپاتې شي.

## د کره کتنې اغېزې

ګل رحمن رحماني



کره کتونکي ته د پرانېستې ټولنې موجود ویل کېږي، په یوه سنتي، تړلې او بحران وهلې ټولنه کې به ګرانه وي چې د ښو ادبي آثارو د لرلو لپاره په کره کتنه پورې هیلې وتړل شي، څکه چې په داسې ټولنو کې به اغزیو ته هم ګل وایې او ګلان خو بیا هېڅ خو نه لري. په داسې ټولنو کې د کره کتنې معنا بې ځایه ستاینه ده او نیمګړتیاوو ته د کمال رنګینې ور اغوستل کېږي.

د دې خبرې بله معنا دا ده چې ادیبانو او ټولنې لا هم کره کتنه په رسمیت نه ده پېژندلې، څکه په رسمیت پېژندنه په حقیقت کې یو قانون دی چې پر وړاندې یې ښه او بد په یوه ستېج درول کېږي او هر څوک په خپله بڼه وړاندې کېږي. پنځګر کره کتنه منې، خو هغه وخت چې پر بل چا او بل اثر وي، کله چې خبره ده ته اوړي، بیا نو هم د کره کتنې مفهوم بدلېږي او هم یې پایله د منلو وړ نه وي. ښایي چې دا چاره زموږ د ټولنې له دودیز سکښت سره هم تړاو ولري، څکه چې موږ لا هم د یو چا نیوکه نه شو زغملی، په داسې حال کې چې منو «خپل عیب د ولو منځ دی.»

کله چې د عملي کره کتنې خبره کېږي؛ نو یو مهم هدف د هغه مثبت اغېز تر لاسه کول دي چې له ټولنې څخه تر لاسه کېږي. پر ټولنه او ادبي چاپېریال د ادبي کره کتنې د اغېزو خبره پر ادبي اثر د کره کتنې له زاویې سره هم تړاو لري.

کره کتونکی او لیکوال دوکتور اجمل ښکلی د کره کتنې د زاویې په اړه وایي: «پر یوه پنځونه له یوې او څو زاویو نه کره کتنه کولای شو. د حقایقو په اړه چې وخت په وخت زاویې بدلېږي، ډېر نوي اړخونه یې رابرسېره کېږي. اوسمهال چې په یوه وخت له څو زاویو نه استفاده کېږي، د حقایقو ډېر تیاره اړخونه په یوه ځل لیدای شو. که یو څلور ګوټیز ښیښه یې بوتل وي، چې څلور واړه برخې یې په څلورو بېلابېلو رنګونو رنګ شوې وي؛ خو یوازې پر یوه شنه اړخ یې چې موږ ته مخامخ دی، رڼا لګېږي؛ وایو: بوتل شین دی. مخامخ راته یو بل کس ناست دی او هغه ته د بوتل سور اړخ روښانه دی، هغه وایي: نه، بوتل سور دی. د دواړو قضاوت ناسم نه دی؛ خو نیمګړی دی. بالعموم په ټولنیزو مسایلو کې د بېلابېلو ډلو ترمنځ د جګړې مهم لامل دا وي، هر ډله فکر کوي، چې زما قضاوت سم دی، خو که موږ خپلې زاویې بدلې کړو؛ مثلا: د بوتل هر لور ته څراغ روښانه کړو؛ نو قضاوت به مو تر پخواني قضاوته مختلف او دقیق وي.»

له دې تشریحاتو وروسته به د کره کتنې اغېزې پر یوه څلور ضلعي (پنځګر، اثر، ادبي ماحول او د پنځګر – لوستونکي اړیکه) وڅېړو:

**الف: پر پنځګر د کره‌کتنې اغېزې**

لیکوال یا پنځګر د ادبي اثر رامنځته کوونکی دی او په خپل اثر کې خامخا ځان را څرګندوي، یا په بل عبارت ادبي اثر له خپل پنځوونکي څخه پردی نه وي. که څه هم په عادي کره کتنه کې باید ادبي اثر د هغه له پنځګر څخه په جلا چاپېریال کې تر ارزونې لاندې ونیول شي، خو کله کله کره کتونکی اړ وي چې د اثر لپاره د اثر له پنځګر سره هم اشنایي ولري، څکه د هغه د ښې پېژندنې په سبب د اثر رواني شکل پیدا کوي او پنځګر ته ښې سپارښتنې او لارښونې هم کولی شي.

د لیکوال له اړخه د ادبي اثر کره کتنې ته په انګریزي کې Expressive criticism کره کتنه وایي؛ په دې کره کتنه کې ادبي اثر د لیکوال له اړخه ارزول کېږي. د تخیلاتو، فردي لیدلوري او ذهني وضعیت په برخه کې د لیکوال صمیمیت او رښتینولي ارزیابي کوي.

د دې کره کتنې له لارې غالبا ادبي اثر کې هغه مدارک او شواهد پلټل کېږي چې د لیکوال په ځانګړي حالت او طبیعت دلالت کوي، څکه چې لوستونکی په ادبي اثر کې خامخا په یوه نه ۳ مخ

## د پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار د څېړنو او پنځونو د عروج پړاوونه

سیداصغر هاشمي



د جسمي ځواکمنتیا لپاره فزیکي سپورت اړین دی او د فکري ځواک لپاره مطالعه؛ نو له همدې امله دا د اتیا کلن پوهاند زیار د ډېرې مطالعې او څېړنیزو علمي هڅو پایله ده، چې نن هم علمي ځوان دی او د علمي کارونو د پیاوړتیا دوره یې مخ پر بره درومي.

د فردي توپیرونو مفهوم دی، د نړۍ ډېرو انسانانو ذکاوتونه، احساسات، تخیلات، تاثر، ذوق او داسې نور هغه کره وړه چې د انسان له دننني او بهرني جوړښت سره توپیر لري. یو لیکوال به د څېړنیزو کارونو ذکاوت لري او بل به د پنځونو؛ یو به یو ډول ذوق لري او بل به بل ډول.

انسانان د ژوند په پړاوونو کې له فزیکي او معنوي توپیرونو سره مخامخېږي. دا چې ټولې څېړنې او پنځونې د انسانانو په وسیله تر سره کېږي؛ نو اړینه ده چې د ده څېړنیز کارونه به د پیاوړتیا پړاو ته رسېږي او د ده په پنځونو کې به ادلون بدلون راځي.

د هر څېړونکي په کارونو کې مثبت او منفي ادلون بدلون منځ ته راځي.کله به یې پنځونې لوړو پوړیو ته رسېږي او کله- کله به یې په وېناوو کې مخکینی اغېز نه وي. د علمي کار په پیل کې به د مبتدي څېړونکي په ډول څېړنیز کارونه کوي، خو د وخت په تېرېدو سره به ترې ښه څېړونکی جوړېږي.

ادبپوهنه، ژبپوهنه او ادب تیوري سره اړیکې لري، که څېړونکی د ادب تاریخ لیکلو اراده ولري، نو دی باید د ادب تیورۍ مطالعه او پوهه ولري، څکه چې د ادب تاریخ لیکوال لپاره په تیورۍ پوهېدل اړین دي.

پنځونې له څېړنو سره اړیکه لري،که څېړنه نه وي، نو پنځونې پرمختګ نه شي کولای ۲مخ

## د لیکوالۍ لپاره د موضوع موندنې لس غوره لارې

ژباړنه: څېړندویه نازو کمال



مسلکي لیکوال هغه دی چې تل او په هر حال کې، آن که خوښه یې هم نه وي لیکل وکړي؛ خو اساسي ستونزه د موضوع پیدا کول دي، کله چې غواړو لیکل وکړو، باید څه ولیکو؟ ډېر وخت مو زړه کېږي، مېز ته کېنو، لیکل وکړو؛ خو هېڅ موضوع یا مطلب مو ذهن ته نه راځي؛ نو حل لاره څه ده؟ دلته هڅه شوې، هغه لس ګټورې طریقې توضیح شي چې د لیکلو لپاره پرې ښه موضوعات پیدا کولی شو.

**۱ـ لیکلو ته دوام ورکړئ**

مېز ته کېنئ او هر هغه څه مو چې په ذهن کې راځي ویې لیکئ، هر څه او هره پېښه مو چې خوښه وي ویې لیکئ. لیکوالي، یعنې تمرین او همدا تمرین دی چې هر انسان په ښه او پاخه لیکوال بدلوي، لکه څرنګه چې هر مهارت تمرین ته اړتیا لري، باید لیکوالۍ ته هم تمرین وشي، ټول افکار او ذهني مسایل باید ولیکو، یواځې له همدې لارې کولی شو په دې کار یا مسلک کې مهارت حاصل او غوره لیکنې وکړو، لازمه نه ده چې ستاسې ټولې لیکنې دې خلک ولولي او هر هغه څه چې لیکئ خامخا دې مخاطبین یا ځانګړی فرد مطالعه کړي، یواځې لیکل وکړئ او بس؛ لکه یو هنرمن چې له کنسرت څخه د مخه ساعتونه، ورځې او میاشتې د یو ځل د څو ساعتونو د سندرو ویلو لپاره تمرین کوي. هماغسې لکه یو کس د منډې د سیالۍ لپاره په میدان کې کلونه او میاشتې تمرین کوي چې یو ځلې په اصله سیالۍ کې برخه واخلي او د خپلو مینه والو د هڅونې پر وړاندې منډه ووهي، یو لیکوال هم باید تل تمرین وکړي چې خپلو لوستونکو ته یو ښه متن وړاندې کړي. غوره او د ستاینې وړ لیکنې هم له همدغو بې هدفو لیکنو څخه حاصلېږي، نو د دې لپاره چې ښه لیکوال شئ، هڅه وکړئ هر څه مو چې ذهن ته راځي ویې لیکئ. ۳مخ

## سرمقاله

# موږ باید کوم آثار را وژباړو؟

ژباړه له یوې ژبې نه بلې ژبې ته د مفهوم یا مفهومونو اړول دي، چې د نړۍ په زیاتو ژبو کې ډېره اوږده مخینه لري. په پښتو ژبه کې لومړی لاس ته راغلې ژباړه، لومړنیو هجري پېړیو ته رسېږي او دا دود د پښتو ادبیاتو په لرغونې، منځنۍ او معاصره دوره کې پالل شوی دی. د لومړیو دوو دورو ژباړې د وروستۍ دورې په پرتله که د کمیت له مخې کمې دي؛ خو د کیفیت له اړخه ډېرې لوړې دي، چې تر ډېره د ژباړې گومان هم نه پرې کېږي. په معاصره دوره کې د ژباړې لمن پراخه شوه، خو د کیفیت خوا ته یې ډېر د خلکو ور پام نه شو؛ خو اوس یوه خبره چې رامخې ته کېږي، هغه د ژباړې لپاره د کتابونو یا که نور یې هم څرگند ووایو، د څانگې انتخاب دی، چې په کومې برخې کې باید ژباړې وشي.

په لرغونې او منځنۍ دوره کې زموږ ژباړې تر ډېره دیني او ادبي وې، خو په معاصره دوره کې د علومو له پراختیا سره د ژباړې لمن هم پراخه شوې ده او د بېلابېلو څانگو کتابونه پښتو ته را ژباړل شوي. زموږ د زده کوونکو، لیکوالو او د بېلابېلو څانگو څېړونکو لپاره ژباړونکو د نړۍ له معتبرو سرچینو علمي آثار را وژباړل. په دې سره زموږ زده کوونکي هغه وخت چې د نورو ژبو زده کړې ته یې ورکوي د علم او زده کړې په برخه کې مصرفولی شي او د نړۍ معتبر تحقیقي آثار په خپلو ژبو کې لوستلی شي او استفاده ترې کولی شي.

اوس یوه مهمه مسئله دا ده چې موږ باید کوم کتابونه را وژباړو؟ په زیاترو غونډو کې دا پوښتنې مطرح کېږي چې ځواب یې ساینسي کتابونه وي چې په پښتو کې ورته ډېره اړتیا ده او باید را وژباړل شي؛ خو دا خبره نه ورسره کېږي چې دا کتابونه دې څوک را وژباړي؟ ځکه څومره چې د هغو کتابونو را ژباړل اهمیت لري؛ همدومره یې د ژباړن ټاکل هم د ارزښت وړ دي.

په معاصره دوره کې د علومو پراختیا او د انسانانو بوختیاوو، انسان اړ کړ چې باید علوم په بېلابېلو برخو ووېشي او د دې علومو په ځانگړې برخه کې زده کړه وکړي، ځکه چې یو کس په دې ټولو پسې نه شي رسېدلی. په دې وروستیو پېړو کې ساینسي پرمختگونو، اختراعاتو او کشفیاتو دا چاره نوره هم ستونزمنه کړه. له بلې خوا د هرې پوهنې خپله ټرمینالوژي وي، چې د اړوندې څانگې برخوال یې په خپلو منځونو کې کاروي. په خپله څانگه کې د ژباړې گټه همدا وي، چې ژباړونکی له دې ټرمینالوژۍ سره بلد وي، نو مفاهیم په سمه توگه را ژباړلی شي.

پښتو ژبې ته د راژباړل شوو آثارو زیات ژباړن د ادبیاتو د څانگې اړوند دي؛ نو که موږ ساینسي کتابونه په یو داسې چا را وژباړو چې د هغوی مسلک نه وي، د گټې پر ځای به مو تاوان کړی وي، ځکه هغه کس مو د اړوندې څانگې د کتابونو له ژباړې نه هم لرې کړ او په نورو څانگو کې ژباړل شوي آثار به یې د څانگوالو لپاره ډېر گټور نه وي.

د دې لپاره چې موږ په هره څانگه کې ژباړن وروزلی شو، یوه غوره لاره دا ده، چې موږ په ښوونځیو کې زده کوونکي د لیکوالۍ له لومړنیو ارونو سره بلد کړو. هغه څوک چې لیکنه کولی شي. د ژباړې هنر یې هم پیاوړی وي او هم کله چې دوی د علومو په بېلابېلو څانگو کې زده کړې کوي دوی کولای شي چې په خپله څانگه کې یوه څه ولیکي او څه را وژباړي. نن ورځ په زیاترو ژبو کې ساینسي آثار لیکل کېږي نه، ژباړل کېږي، خو دغې ژباړې د دې علومو په برخه کې تشه دومره ډکه کړې وي، چې په هغو ژبو کې د ساینسي علومو د کتابونو کمښت هیڅ نه ترسترگو کېږي.

ژباړن دې تر ډېره خپلې خوښې ته پرېښودل شي چې له څه سره لېوالتیا لري، نو په هغې برخه کې دې ژباړې وکړي، لکه څنگه چې د یوې تحملي موضوع لیکل سخت وي، هغسې چې لازم وي لیکوال هسې لیکنه نه شي کولای، همداسې د یوې تحمیلي ژباړې کار هم سخت دی. ژباړن چې ورسره لېوالتیا ونه لري زړه یې پرې اوبه ونه څښي ژباړه به یې هم هغسې خوند ونه لري، لکه څنگه چې تمه ترې کېږي.

پر یوه څه سترگې پټول نه دي په کار، اوس په پښتو کې په زیاترو ساینسي او ټولنیزو برخو کې ژباړې کېږي؛ خو ژباړې کمې او بیا داسې ژباړې چې ژبه یې سمه وي او لوستونکي او زده کوونکي ترې خوند اخیستی شي ډېرې کمې دي. زموږ یو لیکوال یا ژباړن چې کله له یو چا سره خبرې کوي ژبه یې طبیعي او د تصنوع څرک په کې نه لگېږي خو که لیکل کوي او یا ژباړې کوي بیا ژبه څه نا څه ترې لاره غلطوي او ډېر گرامري جوړښتونه په پام کې نه نیسي. که د یوې غونډې له برخوال نه پوښتنه وشي چې غونډه کې څوک وو؟ و به وایي چې پلانی او پلانی وو؛ خو پلانی نه و، یا نه و راغلی؛ که همدغه جمله درته لیکي بیایې نو داسې لیکي ((چې پلاني په غونډه کې شتون نه درلود.)) دلته یوه خبره چې باید په پام کې ونیسو هغه دا ده، چې ژبه له طبیعي حالت نه، ونه باسو، مفاهیم په سمه توگه؛ لکه څنگه چې د ژبې د گرامر غوښتنه وي؛ هماغسې وکارېږي. په دې سره زموږ د ژباړو ژبنۍ ستونزې تر ډېره حل کېږي.

**| لنډه کیسه |**

**سیدنظیم سیدي**

## غاښ

له لیلې نه د راوتلو پر مهال براچوفسکي هم پسې رامنډې وهلې، خو دی درد داسې لیونی کړی و چې هیڅ یې هم نه اورېدل.

په اوږه یې لاس ورکېښود:

- ظالمه! ستونی مې وغورځېد، کوڼ یې که څنگه؟

خو چې ده مخ ور واړاوه، نو براچوفسکي یې له سترگو پوه شو، الله به خیر کړي هر څه به ښه شي، ته ودرې چې زه ټکسي ودروم.

د لاس په اشاره یې ټکسي د سرک غاړې ته ودرېده، په منډه یې شاتنۍ ور پرانیست او خپله یې د موټر په هاغې بلې دروازې ور وخوت، دروازه یې په بېره راپورې کړه، چې په گرز سره یې ډرېور ټکان وخوړ، مخ یې راواړه، خو چې د هاشم وضعیت یې ولید، نو سم له واره یې میټر کېښته او روان شو، د موټر مخامخ ښیښه یې سمه کړه او سترگو ته یې ځیر شو چې کوم ځای ورته ښيي؟

ملگري یې پته ورکړه او لږه شېبه وروسته د ناروغ په خولې کې د بې حسۍ سپرې پرش وهل شوې وه، د دې لپاره چې درد یې هېر شي، ډاکټر ورته د خپلې محصلۍ کیسې پیل کړې او څو چې هاشم په ځان پوهېده، نو په درد یې سرې اوبه توی شوې.

ځان یې پوښتنې ته جوړ کړ، خو په لوښي کې یې د غاښ کړنگ واورېد، ډاکټر په خندا ورته وویل؛ همدا دې غوښتل، کنه ترمیمېدلای هم شو.

ډاکټر صاحب، له واره مې ماغزه کرار شول.

په سر کې مې داسې کړنگاری و ته وا څوک په کې مېخ راټوموي، ایله مې سترگې وغړېدې، خو ډاکټر لا هم په خندا خپل خپگان ښکاره کاوه.

هاشم ډېره شېبه په څوکۍ کې پروت و او چې څنگه به یې سر اوچت کړ، ډاکټر به په مسکا ورته وویل، لږ نور ارام هم وکړه چې ښه په حال شې.

تر ډېر ځنډ وروسته را پورته شو، ډاکټر څه ویلو ته خوله جوړه کړه، خو ده د خبرو وخت ور نه کړ، نور ښه یم، همدومره به بس وي.

ډاکټر لا هم د ارام ټینگار کاوه، خو هاشم کوټېند ته ځان رسولی و او د خپلۍ کورتۍ لستوڼي یې په لاس کړي وو.

براچوفسکي له ډاکټره مننه وکړه او د هاشم سترگو ته یې وکتل.

هو ځو، ډاکټر صاحب ډېره مننه، هرو مرو بله اونۍ د قالب اخیستو لپاره راځم او په دې سره له کتنځې ووت.

هاشم لا د کیف ښار او روسي ډاکټرانو په سوچونو کې و چې دوو مټورو ځوانانو یې اوږې ور ټینگې کړې او څو چې په ځان پوهېده ځانگل یې پر خولې له خیرو ډک امبور ور ننویستی و او په یوه زور سره یې خوله ورته له وینو ډکه کړه، هاشم ډېر زورونه وکړل، خو له یوې خوا یې پلار پرې سترگې برگې کړې وې او له بلې خوا داسې هډور ځوانان ورته تمبه شوي وو چې ده خوار ترې رپ هم نه شو وهلی.

د ډېرو زورونو له امله په ځانگل خولې را ماتې وې، خو غاښ داسې کلک شوی و چې ته وا چا مېخ کړی دی.

نایي دمه شو، په لستوڼي یې خوله پاکه کړه او بیا یې له خاورو او شگو ډک امبور پر خوله ور دننه کړ.

د هاشم گرېوان او جامې ټولې په وینو ککړې شوې او لا هم د پرخې د چینې په څېر مرې پرې روانې وې.

نایي چې د کلیوالو گڼه گوڼه ولیده، نو یو ځل بیا یې د اټکلۍ په انداز د امبور خوله د ده غاښونو ته ور سمه کړه او پر هډورو ځوانانو یې پټکه هم وکړه، ولې درنه خوځېږي، ټینگ یې کړئ نامردو.

د کلیوالو خبرو نږدې د هاشم زړه درولی و، نه لا خو یې زور نه دی کړی، دا وینې خو هیڅ هم نه دي، ولې چیناری مو هېر شو څومره وینې یې پر گرېوانه راغلې وې، هاغه غزگي نه درې ورځې وینې نه تلې، دی خو نازولی دی، ښاري دی کنه، له خارجه راغلی، ته ودرې چې دا د خارج هوا یې له سره ووځي، پر کلیوالو یې ځان جگ باله، اوس به ورته معلومه شي چې د زېړې غوا غوړو کې څومره زور دی.

د هاشم ساه نوره بندېدله سترگې یې برندې راووتې، مخ یې تک سور شو او د ستوني رگونه یې هم وپړسېدل، بدن یې د ځوانانو په لاسونو کې بې دمه شو، ترڅو چې غورځېده د پلار یې ورته پام شو، په لوړ اواز یې پرې غږ وکړ.

هاشمه! وه هاشمه!

نېغ شه وه هلکه! مه مې شرموه، دا خلک به څه وایي چې له یو غاښه یې دومره واخې سست شول، نېغ شه وه هلکه، څه بلا ووهلې.

هلکه خانگله! زر کوه ظالمه دا څه کوې، ماشومان دې را پورې وخندول.

بس خلاص شو کاکا.

دا خو دغسې خپل سري او... ځوانان دي، هره بلا په غاښونو پورې موښي، نه یوازې یې پاک نه کړل، بلکې داسې یې په وریو پورې ورټینگ کړي چې ته وا زنگ وهلي.

زه خو همدا چیغې وهم چې د غاښونو د پاکولو لپاره د انگورو له پاڼو او شنو غوزانو له پوټکو ولا که بل ښه شی پیدا کړئ، خو دا سرزوري چې دوه ورځې ښار ته لاړ شي، نو بیا داسې خپل سري شي.

هلکه خانیه! ډېر مه غړېږه، بیړه کوه د هاغه لوی تیر د کوکنارو دویم للون لا پاتې دی.

خانگل یو ځل بیا په ورغوي ټوکاڼې ور توه کړې او خپله ښي پښه یې د هاشم سینې ته ور تمبه کړه، دوه لاسي یې امبور راکش کړ او له دې سره یې داسې کړس وکړ چې د هاشم په نظر نیمه ژامه یې ورماته کړه.

کلیوالو چیغې کړې شور او زوږ جوړ شو، بس راووت، بختور دې مات نه شو، امانت سلامت را ووت، خو دا کړس، کړس نه و، بلکې د هاشم په مغزو کې سمه د بم چاودنه وه، ژامې یې داسې لېونی درد شروع کړ چې د کبچه مار په څېر یې ځای پر ځای تاواوه راتاواوه، کله یې چې خولې ته لاس کړ، نو د درېو غاښونو ټوټې یې لاس ته ورغلې.

## د پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار...

او که چېرې پنځونې نه وي، نو څېړنه بې معنا کېږي. د ټولو څېړنیزو کارونو پرمختگ له پنځونو سره اړیکه لري او یو له بل سره تړلي او پېیلي دي. هره ټولنه څېړنې، پنځونې، ژباړې،څېرلي(تحلیلي) اثار او په نورو ژبو لیکل شوو اثارو ته اړتیا لري.څېړنې یو ډول ارزښت لري او پنځونې بل ډول.

ځینې خلک پنځونو ته د څېړنې په پرتله ډېر ارزښت ورکوي او وایي چې اول لاس تخلیقي بدیعي ادبیات دي. بدیعي ادبیات خپل ارزښتونه لري او د شعر د ډولونو او د هنري نثر د ډولونو بنسټیز ارزښت یې په هنریت او شعریت کې دی او د ادب بنسټیز او ټولیز توکي راوړل پکې اړین دي.

څېړنیز ادبیات خپل منځپانگیز او جولیز جوړښت لري، په یو نوم او بل نوم هرې لیکنې ته څېړنیزه لیکنه نه شو ویلای ، لکه څرنگه چې هر نثر هنري نثر کېدای نه شي او یا هر نظم شعر کېدای نه شي، دغه شان هره لیکنه هم د څېړنې تر نوم لاندې نه شي راتلای.که چېرې یوه علمي لیکنه په ټولو علمي او اکاډمیکو لارښوونو برابره وي او په سکالو(موضوع) کې د څېړنې حق ادا شوی وي او د یوې ښې څېړنې ټولې لارې چارې پکې په خپل ځای راغلي وي؛ نو د داسې لیکنو ارزښت زښته ډېر دی.

استاد زیار د هغو پوهانو څخه دی چې د ده ټولې څېړنیزې لیکنې د څېړنې د نوم د معنوي اړخ په نظر کې نیولو سره په تول پوره دي او ډېرې پنځونې یې هم همدا شان دي.

**د پوهاند زیار د څېړنو پیاوړتیایي پړاو**

د استاد زیار څېړنې او پنځونې د ځوانۍ په حال کې دي. د خوشحال د شعر د ځوانۍ پړاو یې د بند د پېر(وخت) شاعري وه، دغه شان د استاد د لیکنو د ځوانۍ وخت اوسمهال دی. انسان ځواني او زړښت لري، دغه شان څېړونکی د څېړنیز کار په نظر کې نیولو سره هم پرې ځواني او زړښت راځي. د زیار د لیکنو ځواکمنتیا په نظر کې نیولو سره د ځوانۍ پړاو یې نوی پیل شوی او د الله تعالی له درباره هیله لرم چې دغه دوره یې نوره هم اوږده شي.

د اروپوه ویگوتسکي په اند د څېړنې د لوړتیا (عروج) پړاو د (۴۰ ـ۶۰)کلونو پورې ښودل شوی دی، خو زما په پوهه پر کورنیو او بهرنیو څېړونکو او پوهانو کې داسې کسان شته چې له شپېتو کلونو وروستۍ څېړنې او پنځونې یې له پخوا څخه ښې دي. د داسې کسانو له ډلې پوهاند زیار هغه څېړونکی او پنځوونکی دی چې د لیکنو لوړتیایي پړاو یې اوسمهال پیل شوی دی.

د څېړونکي د ځوانۍ وخت یې د زړښت پېر وي، خو په دې شرط چې د څېړنیزو کارونو له پیل څخه د وخت په تېرېدو په ځانگړې برخه کې مطالعه، د پوهو څېړونکو سره ناسته ولاړه او همدارنگه د څېړنې سره یې سرو کار وي، یعنې ډېره لوستنه او د علمي عمر تېرېدل او تجربه د څېړنې بنسټ جوړوي، چې خوشبختانه د استاد علمي عمر ډېر تېر شوی دی او شپېته کلنه علمي تجربه لري.

کله چې څېړونکی په لومړنیو کارونو پیلوي، علمي او څېړنیزې هڅې به یې ځینې ستونزې لري، خو د وخت په تېرېدو او د ډېر ریاضت سره یې په علمي کارونو کې ښه والی راځي. په ټولیز ډول د نړۍ ډېرڅېړونکي او په ځانگړي ډول د پښتو ژبې هغه څېړونکي چې خپلو اکاډمیکو کارونو ته یې دوام ورکړی او ژوند یې څېړنو ته ځانگړی کړی دی، د لومړنیو کارونو څخه به یې وروستي کارونه ښه وي.

د ځینو نورو پوهانو په شان د پوهاند زیار څېړنیز کارونه هم د پخوا نه ښه شوي دي او لامل یې سېستماتیکه مطالعه او علمي څېړنې دي.

د استاد زیار پخوانیو څېړنو یو رنگ درلود؛ خو اوسنۍ څېړنې یې له بلې زاویې تر پلټنې لاندې نیولي دي. د زیار د ۱۳۶۰ل کال وییپوهنه او د ۱۳۹۴ل کال ویبرغونه او وییپوهنه د څېړنې د لارو چارو په نظر کې نیولو سره توپیر لري، یعنې علمي تجربه، دوامداره علمي کار، د نورو پوهانو د آثارو لوستل، درس ورکول او داسې نور مسایل د ده په علمي کارونو اغېز کړی دی.

د استاد پخوانی او اوسنی ((وییپوهنه)) اثر خپل ارزښت لري، خو د څېړنې اصولو او لارو چارو پر بنسټ یې وروستي کار کې اکاډمیکه ځواکمنتیا ډېره ده. پورته خبره پر دې دلالت کوي چې په څېړنو او علمي کارونو کې لوړوالی او بشپړوالی د عمر په تېرېدو، ډېرې مطالعې، د پوهانو سره علمي اړیکې، د عالمانو سره راشه درشه، د کتابونو لوستل، څېړنیز انتقادي فکر، د خپل فکر او نظر درلودل، د هر چا فکر او خبره په پټو سترگو نه منل، د څېړنې ریاضت او داسې نورې خبرې د دې لامل کېږي چې د څېړونکي پر کارونو کې ښه والی راشي.

څېړنه ارادي عمل دی، څېړونکی چې څومره ډېره مطالعه کوي، په هماغه کچه یې پوهنیز کارونه ښه کېږي، د لیکوال پیاوړی عزم او اراده هم ورسره اړیکه لري، خو کله- کله په څېړنو کې له ځینو داسې مسایلو سره مخامخېږو چې غیر ارادي کړنې ورته ویلای شو.

**د استاد د پنځونو پیاوړتیایي پړاو**

پوهاند زیار په لسگونو تخلیقي آثار لیکلي دي. د ده د خپلې وینا او زما د پوهې پر بنسټ د ده د اوسمهال پنځونې د ځوانۍ تر مهاله پخې او پیاوړې دي. په ټولنیزو پوهنو کې بدیعي ادبیاتو د پیاوړتیا او بشپړتیا پړاوونه لري چې په بېلا بېلو وختونو کې پر انسانانو راځي، چې د استاد د پنځونو د پیاوړتیا پړاو هم اوسمهال دی.

پنځونې ځانگړی استعداد او ذکاوت غواړي او د پیاوړتیا وخت یې ناڅرگند وي. دا هغه نبوغ دی چې د انسان له ولولو، عواطفو، نگېرنو انگېرنو، خوښیو او خواشینیو او ټول هغه اکر بکر چې د انسان دننني او بهرنی جوړښت پرې اغېز ښندي، اړیکې لري.

د استاد مبارزه د ژوند له ناخوالو سره روانه ده، خو د ده په خپله وینا چې جلا وطنې، د ژوند تجربه، دوامداره علمي کار، د داخلي هر ډول تاثیراتو ډېروالی د دې لامل شو چې زما(زیار) په پنځونه کې له پخوا ځواکمنتیا ډېره شوه.

ټولې پنځیزې کړنې د انسان له تاثراتو او دنننی کړو وړو سره اړیکه لري، په انسان ډول ډول حالات راځي او د دغو ښو او بدو حالاتو د راتگ وخت ناڅرگند وي، دا هم څرگند نه وي چې پنځوونکی په کوم وخت کې ښه لیکنه کولای شي، نو له همدې امله د څېړنې د پیاوړتیا پړاو ناڅرگند وي، یعنې نه شو ویلای چې د عمر په کوم پړاو کې پنځوونکی ښه پنځونه کولای شي.

دا(پنځونه) هغه غیر ارادي او کله- کله تحت الشعوري عمل دی، چې پر پنځگر د الهام په بڼه راځي او دی کولای شي چې د دغه وخت نه گټه واخلي او ښه شعر او یا نثر ولیکي. غیر ارادي عمل د لیکوال په واک کې نه وي او تحت الشعور په اړه اروپوهنه داسې وایي: په هر انسان د ژوند په مختلفو پړاوونو کې ډول ډول حالات راځي.کله خوشحاله او کله خفه وي. کله مالداره او کله غریب وي.کله په درد او کله بې درده وي، په انسان د دغو مثبتو او منفي حالاتو تاثرات د انسان په وجود کې رسوب کوي، یعنې د ژوند د خوښیو او خواشینیو شېبې، اروایي کړنې او ټولې هغه اغېزې چې د انسان دننني جوړښت سره اړیکه لري، د انسان په تحت الشعور کې وي، که چېرې یو پنځگر د غریب او بېچاره انسان په لیدلو سره یې ولولې وپارېږي او د ده ذهن ته د لیکلو سکالو راشي او ویې لیکي؛ نو اړینه ده چې د ژوند په پړاوونو کې به پر ده غریبي او بېچارگي تېره شوې وي او د هماغه وخت حالات به یې تحت الشعور کې پاتې وي او د دغو شېبو په لیدلو سره په غیر ارادي ډول هغه پخوانۍ شېبې ذهن ته راځي او پرې اغېزې کوي، نو دی مجبور شي چې لیکنه وکړي، د دغو حالاتو وخت نا څرگند وي.

استاد هغه پنځگر دی چې پنځونې یې د پیاوړتیا په حال کې دي او د ده د شعرونو د ښه والي دور، لکه د رحمان بابا او یا غني خان په شان د ژوند په وروستي پړاو کې دي. ۳مخ

## د پښتو ادبي تاریخ د څلورمې...

د دې دوره بندۍ مطابق په ادبي پدیدو کې د معاصریت د نخښو د ثرګندېدو اصل ته په پاملرنه په افغانستان کې د سراج الاخبار افغانیه او په پېښور کې د افغان جریدې له خپرېدو سره هم مهاله د ( ۱۹۱۰م) شاو خوا د پښتو ادبي تاریخ درېیمه یا معاصره دوره پیل کېږي.

ادبپوهانو د دې نوې ادبي دورې د پیل دلایل داسې ښوولي دي؛ په افغانستان کې د مستبد شاهي نظام په وړاندې د مشروطیت غورځنګ ظهور، دسراج الاخبار افغانیه له لارې ظلم، بې عدالتي، فساد، تحت الحمایه‌ګي استعمار، استبداد، د خود کامه‌ګۍ پر ضد د سیاسي استقلال د حصول لپاره کله ثرګنده او کله ملفوفه مبارزه، د نړۍ له اقتصادي، اجتماعي او سیاسي بریاوو او پرمختیاوو د خلکو خبرول او په افغانستان کې د مدرن ژوند د اساساتو د ظهور، ودې او ترقۍ او پرمختګ لپاره تبلیغ او همدا راز د تاریخي افغانستان شرقي سیمو ته د نویو ادبي ژانرونو رسېدل او حتی د مخفي په شعرونو کې د عنعنوي شعري قالبونو په وړاندې یو ډول قالب شکني هم لیدل کېږي.

دغه او ځینې نور نوي او تازه مسایل د فرهنګ د موسسې له لارې تبلیغېدل او په ادبیاتو کې یې انعکاس موند. کوم موارد چې مو لوړ یاد کړل د نویو حالاتو او شرایطو مولود وو، پر ادبیاتو او فرهنګ یې خپلې ځانګړې اغېزې درلودې، تر دغه مهال د مخه چې پښتو کوم ادبیات روزلي او پاللي دي دا وړ خصوصیات نه لري نو همدا علت دی چې ادبپوهانو دا نوې پرمختیایي تحولات د یوې ادبي دورې د ظهور پیلامه وګڼله او د پښتو ادبیاتو تاریخ کې یې د درېیمې یا معاصرې ادبي دورې اغاز اعلام کړ.

د دې دورې په جریان کې چې ادبیات د مفکورو، هنر، شکل او مضمون له پلوه کوم تحولات او بدلونونه مني او ادبپوهانو په پړاوونو کې تنظیم کړي دي، لکه د همدې معاصرې یا درېیمې دورې ادبي یون د سیاسي، اجتماعي، سیاسي او فرهنګي تحولاتو سره په رابطه کې د ۱۹۱۰ تر ۱۹۹۲م پورې د روښانتیا، ویښتیا او اوښتون پړاوونو کې تنظیم کړي دي.

په ۱۹۹۲م کال کې چې پر افغانستان بدې ورځې راغلې او تر ۲۰۰۲م پورې یې دوام وموند د رکود او د بدبختیو دې موده کې د هېواد د ننه له نورو موسساتو سره په څنګ کې د فرهنګ موسسه هم ډېره زیانمنه شوه په دې بدو ورځو کې ادبیاتو د همدغو ناوړو شرایطو تر اغېزې لاندې د ایجاد زمینې درلودې، خو د دغو ناسمو حالاتو سیورې یې پر هر اړخ پروت و.

په ۲۰۰۲ م کال د هېواد بدو ورځو خپل ځای نوي سیاسي نظام ته پرېښود، ټول سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي نهادونه د اصلاح، سمون او پرمختګ په لور پر مخ ولاړل او د ادب مؤسسه هم له نسبي ښه موقعیته برخورداره شوه.

له دې مختصره موږ پوهېږو چې په معاصره ادبي دوره کې د اوښتون تر پړاو وروسته زموږ په سیاسي-اجتماعي او فرهنګي تاریخ کې د عطف دوې نقطې مخې ته راځي:

۱۹۹۲ او ۲۰۰۲ کلونه. د دغو کلونو د وقایعو بعدي تبعاتو چې په همدې زماني مقاطعو کې د ادبیاتو پر ایجاد، ودې او یا پر شاتګ کوم اثرات پرېښي دي او تر اغېزو لاندې د دې دوو عطفي نقطو د کلونو ادبیاتو خپل موجودیت ثابت کړی دی زما په پوهه د یوې بلې ادبي دورې د شروع کېدو شرایط نه شي پوره کولای. بله دا چې موږ اوس په معاصره دوره کې واقع یو، د یوې دورې په منځ کې بله دوره تشکل نه شي کولای.

زما په پوهه د لوړو یادو شویو کلونو په جریان کې د ادبیاتو لوړې ژورې د معاصرې دورې په دوو نویو پړاونو کې تنظیمېدای شي او د روښانتیا، ویښتیا، اوښتون پړاوونو غوندې، د معاصرې دورې د ادبي تاریخ د مطالعې دوه نور پړاوونه ګڼل کېدای شي ښایي ادبپوهان ورته نومونه پېشنهاد کړي.

اما لکه چې ما د مخه هم ورته اشاره وکړه په اجتماعي علومو کې پر دغسې مواردو کې اجماع نشته، کېدای شي څوک دا نوي تحولات دورې وبولي، خو زه خپله د ګوډیو او د اکاډمیکو معیارونو له وضعې پرته د نوې دوره بندۍ طرفدار نه یم.

## د کره کتنې اغېزې...

یوه ډول را ثرګندېږي. په دې کره کتنه کې د کره کتونکې ښکار خپله لیکوال وي او هڅه کوي چې په هره کلمه، کرښه او بیت کې یې پیدا کړي.

### ب: پر اثر د کره کتنې اغېزې

په عملي کره کتنه کې د اثر موجودیت او تخلیق خورا زیات اهمیت لري، د غوره او کره عملي کره کتنې ډېر ټینګار هم په دې دی چې کره کتونکی باید د خپلې او پنځګر د عقیدې او اند له ټکر په یوه لري او خوندي چاپېریال کې کره کتنه وکړي او د هغه د پنځول شوي اثر ادبي مقام، هنري ښېګڼې او ارزښت او کمزورې خواوې یا خامۍ په ګوته کړي.

دا کار ځکه یو څه ستونزمن دی چې اثر لوستونکو ته رسېدلی، له هر چا سره شته دی، لولي یې او لوستونکی د کره کتونکي د نظر او هم د ادبي اثر په اړه په خپله یو څه قضاوت کولی شي؛ نو کره کتونکی باید د عملي کره کتنې پر ځای د اثر پېچلې او پټې خواوې را وسپړي او یوائې د اثر پېژندنه او مخکتنه نه وي.

د اثر له مخې کېدونکې کره کتنې ته عیني یا Objective criticism کره کتنه ویل کېږي. په دې کره کتنه کې خپله ادبي اثر پرته له دې چې له لیکوال، لوستونکي او واقعي نړۍ سره یې اړیکه پام کې ونیول شي، ارزول کېږي. خپله ادبي اثر ته د یوې خپلواکې او پر ځان بسیا ښکارندې په سترګه ګوري چې باید په خپل ذات کې د هغو په دروني معیارونو لکه ایهام او ابهام، د متن انسجام، د بېلابېلو برخو د خپل منځي اړیکو، جوړوونکو عناصرو او بالاخره د ادبي کمال له زاویې وڅېړل شي.

عیني کره کتنه په حقیقت کې تر یوې کچې د سنتي یا دودیزو ادبیانو د روش پر وړاندې یو ډول غبرګون دی چې دوی به معمولا له متن یا اثر وړاندې د لیکوال ژوند، اند، افکارو او د هغه د ژوند پر ټولنیز حال او وضعیت باندې کره کتنه کوله.

### ج: پر ادبي چاپېریال د کره کتنې اغېزې

د کره کتونکي او د اثر له ځانګړي مخاطب یا عام لوستونکي پرته یو بل عنصر هم شته چې د عملي کره کتنې پر مهال یې له یاده وېستل کره کتونکی تر خپلې اصلي موخې نه شي رسولی، یا په بل عبارت کره کتنه ټولنیز او اصلاحي حیثیت نه شي خپلولی. په بهرني ادب کې دې ډول کره کتنې ته محاکاتي یا Mimetic criticism کره کتنه وایي.

په دې کره کتنه کې یو ادبي اثر له خپلې بېروني نړۍ سره ارزول کېږي، یعنې له واقعي نړۍ سره د اثر هنري مطابقت موندل کېږي. په دې کره کتنه کې د اثر پر مادي علت تکیه کېږي. کره کتونکی دا ثرګندوي چې بشري ژوند او نړۍ د اثر په هینداره کې څومره ځان ښودلی دی. دلته تر ډېره پورې د حقیقت له لیدلوري د ادبي اثر د رښتینولۍ ثرنګوالي ته کېږي چې ادبي اثر خپلې رښتیني موخې تر کومه حده انعکاس کړي او څومره په کې بریالی دی؟

که څه هم دا موضوع تر یوې کچې له ټولنیزې کره کتنې سره تړلې او کره کتونکی په ټولنه کې د ادبي اثر اغېزې ګوري، خو د دې اغېزو تر څنګ پر لیکوال یا پنځګر هم د ټولنې اغېزې ارزول کېږي، په دې معنا چې پنځګر له ټولنې څه اخیستي او بېرته یې ټولنې ته څه ورکړي دي؟ د ټولنې په ادبي او ټولنیز شعور کې یې څومره ونډه اخیستې او ذهنونه یې څومره روزلي دي؟

په ټوله کې دلته زموږ هدف ادبي چاپېریال او روان ادبي بهیر دی، ځکه چې کله مثبته او موثره کره کتنه کېږي، نو موخه ورڅخه یوائې هماغه اثر او لیکوال نه دی، د دغه کره کتنې متن د ادب پر نورو تازه لارویانو د درس او لارښود په توګه خپلې اغېزې پرېږدي او په ادبي چاپېریال کې د مثبت اوښتون سبب ګرځي، که دا اغېز هم ونه کړي، نو په خپرندویه ټولنو او بهیرونو کې د جعلي ادب او له کره کتنې د تښتېدونکو ادیبانو د پرمختګ مخه نیسي چې دا کار د مسلکي او د ادب د خواخوږي کره کتونکي په وسیله شوی دی.

### د: د پنځګر او مخاطب پر اړیکه د کره کتنې اغېزې

د پنځګر او لوستونکي تر منځ اړیکه یوائې د متکلم او مخاطب اړیکه نه ده، بلکې دوی دواړه داسې کسان دي چې په یوه ټولنه کې له یوې خاورې پیدا شوي، خو توپیر یوائې په شعور او لاشعور کې د هغوی د انساني ونډې او حاکمیت له اړخه پیدا کولی شو. پنځګر ته حساس او سترګور انسان وایي، یعنې درک او شعور یې تر عام لوستونکي ځیرک او توړل شوی دی. د یوه ادبي اثر په موثریت کې د پنځګر او لوستونکي اړیکه خورا مهم رول لري او له لارې یې پنځګر خپل ځان ارزولی شي.

پر لوستونکي یا مخاطب د اغېز سپړنې لپاره یو ډول ځانګړې کره کتنه هم دود ده چې Pragmatic criticism ورته وایي. په دې کره کتنه کې د ادبي اثر مخاطب یا لوستونکي ته زیات ارزښت ورکول او دا په کې څېړل کېږي چې اثر خپلې اغېزې لوستونکي ته څومره ور لېږدولې دي. د دې کره کتنې د مطالعې پر مهال ډېر ځله د لوستونکي د غبرګون نظریه یا Raeder’s ( response theory) هم ډېره مطرح کېږي. د لوستونکي د غبرګون نظریه چې د ادبي کره کتونکي له لوري تحلیل او پنځګر ته رسېږي، په حقیقت کې د دواړو تر منځ د یوه ذهني او معرفتي مزي ټینګښت دی.

په دې کره کتنه کې ادبي اثر هغه اثر دی چې پر لوستونکو د ځانګړې اغېزې د عملي کولو په موخه لیکل شوی دی، د لوستونکي په هنري لذت، ښوونه او روزنه، د ښکلا حس بیدارونه او احساساتو پارونه کې د اثر اغېز ګوري، ډېر ځله اخلاقي کره کتنه هم له دې کره کتنې سره په ځینو برخو کې شریکه شوې ده. په کره کتنه کې اثر له دې زاویې هم ارزول کېږي چې اثر د خپلو موخو په تبلیغ کې څومره بریالی دی.

دا کره کتنه د رومیانو په عصر کې تر اتلسمې پېړۍ پورې د کره کتنې پر چاپېریال او ادبیاتو حاکمه وه، خو اوس یې ځای بلاغي کره کتنې یا Rhetorical criticism نیولی دی. په دې کره کتنه کې پر هغو هنري لارو چارو او کړنلارو ټینګار کېږي چې لوستونکی تر اغېز لاندې راولي، د هغه پاملرنه ځانته را اوړوي او په یوه ډول یې په اثر کې را ښکېلوي.

په دې کره کتنه کې د ادبي اثر عظمت او ارزښت هم د اثر د مخاطب او پر هغه د اغېزې له مخې ارزول کېږي، یعنې مهم ادبي اثر هغه دی چې په بیا بیا لوستونکی هیجاني کړي او له سره یې ولولي. د رحمان بابا شعرونه، د استاد شپون داستاني نثرونه او ځینې نور اثار لوستونکي ځکه په خوند او بیا بیا لولي چې د ټولنې له حالت او خپل مخاطب سره رښتینې او بې پردې اړیکه لري.

## د لیکوالۍ لپاره د موضوع...

### ۲ـ د موضوعاتو فهرست جوړ کړئ

د موضوع پیدا کولو لپاره بله غوره لاره دا ده چې د بېلابېلو موضوعاتو فهرست ولرئ. یوه کتابچه درته انتخاب کړئ چې تل درسره وي، همدارنګه په موبایل کې مو هم د یاداښت لپاره یو ځانګړی فایل جوړ کړئ او هڅه دې وشي، هره ورځ لږ تر لږه لس موضوعات په دې کتابچه یا فایل کې خوندي کړئ. دا چې کتابچه تل درسره ولرئ د ورځې په جریان کې شاوخوا د ډېرو پېښو او صحنو په لیدو مو ښه-ښه موضوعات ذهن ته راځي چې د لیکلو وړ وي. نو په کم وخت کې به ډېر موضوعات ولرئ.

### ۳ـ د نورو له وړاندیزونو کار واخلئ

بېلابېلې وېبپاڼې شته، چې د بېلابېلو موضوعاتو فهرستونه وړاندې کوي، د یوې ساده پلټنې له لارې کولی شئ چې د ډېرو وړاندیز شوو موضوعاتو لیست ومومئ.

### ۴ـ ټولنیزې رسنۍ

موږ هره ورځ په ټولنیزو رسنیو کې ډېر وخت تېروو، خو یوه ګټوره استفاده یې دا هم ده چې کولی شو په ټولنیزو رسنیو کې د موجوده مطالبو څخه د لیکلو لپاره موضوعات پیدا کړو. هره ورځ د بېلابېلو موضوعاتو په اړه په انستاګرام، تلګرام، ټویټر او فېسبوک کې په زرهاوو مطالب او جملې مطالعه کوو، په دغو کې هر مطلب کېدای شي د یوې موضوع لپاره انتخاب کړو.

### ۵ـ ورزش وکړئ

د فزیکي فعالیتونو په ډېرېدو سره ذهني فعالیتونه هم زیاتېږي. ډېری لیکوال او بریالي خلک وایي: ((چې ډېر ښه او ارزښمن موضوعات د پلې تګ یا د ورزش کولو پر مهال ذهن ته ورغلي دي.)) نو هڅه وکړئ، هره ورځ نیم ساعت پلې تګ وکړئ او د پلې تګ پر وخت مو چې کوم موضوعات ذهن ته راځي، یاداښت کړئ.

### ۶ـ مطالعه وکړئ

د لیکوالۍ د زده کولو یوه اغېزمنه لاره د نورو لیکوالو د لیکنو مطالعه ده چې هر څومره کولی شئ کتاب، شعر، مجلې او ورځپاڼې ولولئ. د نورو د لیکنو د مطالعې پر وخت علاوه له دې چې یو څه ترې زده کړو، د لیکلو لپاره بېلابېل موضوعات هم په کې موندلی شو. د په زړه پورې موضوع لپاره له مطالعې څخه د زده کړیو څیزونو د لنډیز لیکل اړین دي، همدارنګه کولی شو چې په مطالعه شوو موضوعاتو باندې نقد وکړو.

### ۷ـ فلمونه وګورئ

د دې لپاره چې ښه موضوع پیدا کړئ، د فلمونو کتل یوه بله ګټوره لاره ده، د فلمونو په کتلو بې له دې چې تفریح مو کېږي، ډېر ښه او په زړه پورې موضوعات هم پیدا کولی شئ.

### ۸ـ تاریخي او هنري آثار وګورئ

د نورو هنرمندانو د هنري آثارو په کتلو هم د لیکلو لپاره نوي موضوعات پیدا کېدای شي، د نقاشیو، خطاطیو، د عکاسۍ آثارو او نورو تاریخي ځایونو لیدل او کتل الهام ورکوونکي دي او د دې سبب کېږي چې ښه موضوعات مو ذهن ته راشي.

### ۹ـ موسیقي واورئ

د روحي و رواني آرامتیا او له شوره د لرې کېدو لپاره موسیقي یوه ښه لار باله شي، پر دې سربېره د لیکلو لپاره ښه موضوعات هم پیدا کولی شئ. نو هڅه وکړئ چې د خپلې خوښې مطابق د موسیقي سبک ځانته وټاکئ او وخت نا وخت ورته غوږ شئ.

### ۱۰ـ له ملګرو سره وغږېږئ

موږ ټول ځینې ډېر نږدې ملګري لرو، له دوی سره په کېناستو او غږېدو نه یوائې دا چې وخت مو ښه تېرېږي، د دوی له خبرو ښه موضوعات هم پیدا کېدای شي. په دې لیکنه کې هڅه شوې چې د موضوعاتو د پیدا کولو لپاره مناسبې طریقې در وپېژنو، البته زه خپله د روزانه لیکلو لپاره له اول روش څخه ډېر کار اخلم او زما په اند تر ټولو غوره روش هم دی، خو د نورو روشونو په وسیله هم ګټور او په زړه پورې لیکنې کېدای شي. د دغو ټولو ترمنځ بیا هم (لیکل) تر ټولو مهم دي، نو هڅه وکړئ چې هره ورځ یو څه ولیکئ، دې ته هم اړتیا نه شته چې څوک دې خامخا دا لیکنې ولولي.

(همدارنګه زما په یاد دي، پر یوه موضوع مې له خپل استاد سره بحث وکړ، بله ورځ مې چې فېسبوک پرانیست، د ده مقاله مخې ته راغله چې زموږ له بحث څخه یې بشپړه مقاله لیکلې وه، نو همدا یوه ډېره غوره لار ده چې د خلکو له خبرو او بحث څخه ډېر ښه مطالب پیدا او لیکل کېدای شي.) (ژباړنه)

## د پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار...

د پښتو ژبې پیاوړی شاعر خوشحال خان خټک ډېره شاعري کړې ده او د څېړونکو په وینا چې لومړنی شعر یې په شل کلنۍ(۱۰۴۲) کې ویلی دی، له ټولو پخوانۍ قلمي نسخه یې په علومو اکاډمۍ کې شته، په دې نسخه کې یوه داسې څلوریزه شته چې پر(۱۰۹۹) کال لیکل شوې، نو له دې خبرې داسې انګېرلای شو چې خوشحال د مرګ تر ورځې(۱۱۰۰) کال پورې شاعري کړې ده، چې شاو خوا(۴۰۰۰۰) بیتونه یې ویلي دي.خان بابا د شل کلنۍ نه تر اته اویا کلنۍ پورې اته پنځوس کاله شاعري وکړه.

د خوشحال د شاعرۍ د لوړتیا(عروج) پړاو د بند د وخت(۱۰۷۴ ــ ۱۰۷۹) شاعري ده. فراقنامه، حبسیات او ډېرې بوللې یې په بندکې ویلي او د شاعرۍ د پیاوړتیا مرحله یې ده.

د رحمان بابا د شعرونو د بشپړتیا دور د ژوند وروستۍ(زړښت) مرحله ده، د دې دور شاعري یې د فکر ژوروالی لري، تصوف او عرفان ته داخل شوی، دنیا یې د زړه او سر په سترګو مطالعه کړه، د خلکو ستونزې یې حس کړې، په دې دور کې ملنګ شو، قلندر شو او درویشي یې اختیاره کړه.

غني خان ښه شاعر دی، خو بیا هم د ده په شعر کې د پیاوړتیا پړاو د زړښت د وخت شاعري ده. د دې دور شاعري عشق او محبت، فلسفي او حقیقت نه ډک شعرونه دي، دغه شاعري یې د هستیو د ذاتي پېژندنې په غرض انسان ته ښوونه او د شیانو د حقایقو او د هغو د وجود له لاملونو څخه بحث کوي او د فکر او هستیو له اړیکو څخه غږېږي، چې د هغو د پېژندنې له اغېزې د انسان لاره د لوړې موخې لپاره ثرګندوي.

د پوهاند زیار څېړنې او پنځونې د پرلپسې پیاوړتیا او بشپړتیا پړاو کې دي او د الله تعالی له درباره ورته اوږد عمر غواړم چې لیکنې یې لا پایینه ومومي.

**مأخذونه:**


۱. باور، خلیل الرحمن. د څېړنې لارښود، بلوچستان یونورسټي: کوټه، ۲۰۱۲ م کال.

۲. صلاحي، محمد نبي. په ادبي څېړنه کې د مېتود ارزښت، د ژبو او ادبیاتو مرکز: کابل، ۱۳۹۳ ل کال.

۳. هاشمي، سیداصغر. د مقالې لیکنې بنسټونه، هاشمي خپرندویه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۵ل کال.

۴. هاشمي، سیداصغر. د پښتو نظم تاریخ، مومند خپرندویه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۳ل کال.

# زېړی

علمي، څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تاسيس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د ۱۳۹۹ ل.کال وري مياشت | ۱-۲مه گڼه | پرله پسې ۳۴۵-۳۴۶مه گڼه

د کتونکې ډلې تر نظر لاندې
مسؤل مدير: څېړنيار احسان الحق
مهتمم: څېړنيار ياسرپاچا
د يوې گڼې بيه: پنځه افغانۍ



د اړيکو شمېرې: ۰۷۴۴۴۸۷۳۳۵
۰۷۰۴۹۸۶۰۳۳
برېښناليک: zerai1316@gmail.com
پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، زنبق څلور لارې، نوى ښار
کابل—افغانستان



د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز خپرنيز ارگان

• په زېړي جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوى په خپله د ليکوالو پر غاړه دى.


**د اداري يادښت:** د زېري جريدې د کب مياشتې گڼه د ليکوال او ژبپوه پوهاند صديق الله رښتين د زوکړې سلمې کاليزې علمي- څېړنيز سيمينار لپاره ځانگړې شوه وه، د ليکنو د ډېرښت له امله د ۱۳۹۸ل کال د کب مياشتې ((فرهنگي او ادبي پېښليک)) له چاپ نه پاتې شو، د دې لپاره چې د تسلسل کړۍ مو ماته کړې نه وي نو د ۱۳۹۹ل کال په لومړۍ گڼه کې په ترتيب لومړى د کب مياشتې او بيا د وري د مياشتې پېښليک خپرېږي.

## د فرهنگي او ادبي خبرونو پېښليک

څېړنوال محمد اصف احمدزى

*د ۱۳۹۸ل کال د کب مياشتې فرهنگي پېښليک*

### "تفهيم التفاسير" چاپ شو

"تفهيم التفاسير" دا تفسير مولوي عبدالهادي حماد ليکلى چې په ۱۲ ټوکونو کې چاپ شوى دى.



د حماد په وينا، دغه تفسير کابو ٦زرو مخونو ته رسېږي چې ناشر يې جامعه اسلاميه حماديه دى، خو مالي لگښت يې د حاجي نصير احمد په نامه يو تن ورکړى دى.

### تېرو دوه مياشتو کې ۲۵ پښتو داستاني کتابونه چاپ شوي

په تېرو اتو اوونيو کې (د ۱۳۹۸هـ. ش کال جدي او دلو مياشتې) په پښتو ژبه ۱۴ ناولونه، ۷ د لنډو کيسو ټولگې، ۲ د ډرامو مجموعې، يو داستاني کليات او يو هم د



داستاني طرحو کتاب د ډيورنډ کرښې دواړو غاړو ته چاپ شوي دي.

**د ۲۰۲۰ په لومړيو دوو مياشتو کې چاپ شوي پښتو ناولونه:**

(۱) ټال - نصير احمد احمدي (۲) اکبر خان: مينه او جگړه - اکمل داوى (۳) او بيا څوک نه و(ژباړه) - جبار فراز (٤) لېونى کابل - اصف مشال (٥) کوچنى شهزاده(ژباړه) - هوسۍ طارق (٦) د انسانانو ښکار - حاجي محمد رزمي (۷) بسپنه- عبدالهادى حماس (۸) وطن مې: د ناکامورا د ژوند ريښتينى داستان - نوراللـه سطانزوى (۹) فاحشه (ژباړه) - محمود مرهون (۱۰) گلگوټه ساحه - مير حسن خان اتل (۱۱)ځوان زخمي پاچا- عبدالهادي احمدزى (دويم چاپ) (۱۲) هغه راهب چې فراري موټر يې خرڅ کړ(ژباړه) - جبار فراز (دويم چاپ) (۱۳) ارمانجن شهيد - بريال وزيروال (١٤) د سوفي نړۍ(ژباړه) - شفيق اميرزى او وږمه وردگ (دويم چاپ).

**چاپ شوې لنډې کيسې:**

(۱۵) پټ پټونى- اياز الله ترکزى (١٦) تور گلاب- کلثوم زيب (١٧) د صحرا بادونه- فيروز اپريدى (١٨) توکلې لاړې - پروفيسر بهرام زخمي (١٩) دستار - نصيب الله سيماب (٢٠) ابوالهول چې پښنه وکړه - حيات ژوند (٢١) ژوند په موسمونو کې- ايمل پسرلى.

چاپ شوې ډرامې:

(٢٢) بادشاه اېډيسن (ژباړه) - شعيب خان خټک (٢٣) شالون او ولمه - سيال يوسفي

دغه راز دغه آثار هم چاپ شوي دي:

(٢٤) د اوبو پر مخ گامونه - ابراهيم سپېڅلى (داستاني طرحې)

(٢٥) د استاد شپون داستاني کليات - ټولوونکى: لعل پاچا ازمون.

سرچينه: ايمل پسرلى، بي بي سي، د ۱۳۹۸هـ. ش کال د کب ۱۱مه، https://www.bbc.com/pashto/arts-and-literature-51697353?at_custom3=BBC+Pashto&at_custom1=

### "يوه اوونۍ يو کتاب"

د "يوه اوونۍ يو کتاب" خپرونه په ۱۳۸۳ هـ. ش کال په کليد راډيو کې پيل شوې



چې په اوله کې پنځلس ورځنۍ نيم ساعته وه. د دې خپرونې کابو ۵۲ خپرونې جوړې او خپرې شوې وې، خو تر ۵۲مې خپرونې وروسته وځنډېده.

دا خپرونه يو ځل بيا د صديق الله بدر په پروډيوسرۍ د ۱۳۹۸ کال د سرطان په مياشت کې پيل شوه، خو دا ځل د خپرونې بڼې بدلون موندلى دى. اوس په دې خپرونه کې لومړى پروډيوسر د کتاب د ليکوال او د هغه د محتوا په اړه لنډ انتقادي نظر ورکوي. بيا له ليکوال سره د کتاب د ليکلو په اړه مرکه په کې خپرېږي او په پاى کې پر کتاب د يوه منتقد نظر اخيستل کېږي. دا خپرونه د يوې سندرې په گډون يو ساعته ده او تراوسه يې ۲۸ خپرونې ثبت شوې دي .

د خپرونې پروډيوسر (صديق الله بدر) يوه اوونۍ يو پښتو کتاب او يوه اوونۍ يو دري کتاب چې تازه چاپ شوى وي، معرفي کوي. پښتو برخه په خپله بدر پريزنټ کوي، خو دري برخه د نومړي دوې همکارانې (ليلا نوراني) او (مقدس هاشمي) پريزنټ کوي.

### د پښتو مشهورې سندرغاړې مه جبين قزلباش له دې نړۍ سترگې پټې کړې

د پښتو ژبې وتلې سندرغاړه ماه جبين قزلباش د زړه تر اوږدې ناروغۍ وروسته د کب په ۷مه مړه شوه.



د کوزي پښتونخوا ليکوال او د ډيوې راډيو خبريال ميا فاروق فراق وايي، پر مېرمن قزلباش دوه مياشتې مخکې د زړه حمله راغلې او د پېښور په (ليډي ريډنگ) روغتون کې بستره وه چې د کب په ۷مه (د ۲۰۲۰م کال د فبروري ۲۶مه)د چهارشنبې ماښام مهال يې ساه ورکړه. د نومړې جنازه د پنجشنبې پر ورځ د پېښور په کوهاټ روډ سيمه کې ترسره شوه.

هغې په تېرو څو لسيزو کې په پښتو ژبه سلگونه سندرې ويلې او سلگونه زړه مينه وال يې درلودل.

مېرمن قزلباش چې اصلي نوم يې ثريا خانم و، په ۱۹۵۸م او د "بي بي سي" د راپور په اساس په ۱۹٦۵م کال کې په پېښور کې زېږيدلې وه، هغه په خټه قزلباش وه، نيکه يې د افغانستان له هراته کندهار او پلار يې بيا پېښور ته راغلى و، هغې د قبايلي سيمې اورکزو ايجنسۍ د پښتو فلمونو له تکړه هنرمند ايمل خان سره واده کړى و. په ۱۳ کلنۍ کې يې پر سندرو ويلو پيل وکړ او ٤۳ کاله يې په پښتو ژبه د موسيقۍ خدمت کړى دى. فني زده کړې يې له ستر موسيقار رفيق شينواري نه تر لاسه کړې او د خپل خواږه اواز له امله ورته د "بلبل سرحد" لقب هم ورکړل شوى و.

راپورونه وايي، د مېرمن قزلباش مورنۍ ژبه دري وه، خو د دې ترڅنگ يې په پښتو، اردو، پنجابي، سرايکي، سندي، بلوڅي او هندکو ژبو هم سندرې ويلې وې چې د سندرو شمېر يې شاوخوا يوولس زرو ته رسېږي.

د هغې يوه له مشهورو سندرو څخه دا وه:

سپينې سپوږمۍ وايه اشنا به چېرته وينه
گونگۍ شوې ولې!
گونگۍ شوې ولې نه وايې حالونه!

سرچينه: https://www.pajhwok.com/ps/2020/02/27/

### د محمد مزمل هوتک د ادبي هڅو نمانځغونډه

په غزني کې د دايروي مطالعې او کتاب دودولو فرهنگ لسمه غونډه کې د ځوان ليکوال مزمل هوتک ادبي هڅو




ستاينغونډه ترسره شوه.

دغه غونډه چې د کب په ١٤مه ترسره شوه، هوتک په ۱۳٦۷ کال کې په رشيدانو ولسوالۍ کې زېږېدلى، لومړنۍ زده کړې يې په غزني ولايت کې کړې او په ۱۳۸٦ کال کې له رحمان بابا لېسې څخه فارغ شوى او بيا يې دوه کاله سيد جمال الدين دارالمعلمين کې پښتو ادبيات ولوستل او وروسته په ۱۳۹۲ کال کې د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون څخه د پښتو ادبياتو برخه کې ليسانس ترلاسه کړ. اوس مهال د غزنى اطلاعاتو او کلتور رياست کې دنده ترسره کوي. درې کتابونه يې ليکلي: زموږ کلى، د هند يونليک، د عبدالخالق رشيد ژوند او ادبي هلې ځلې.

په دې غونډه کې غزني مېشتو ليکوالو او د غزني پوهنتون استادانو د مزمل هوتک په بېلابېلو اثارو مقالې ولوستې

سرچينه: نېکزاد کټوازى، د "NikZad KatawaZai" فېسبوک پاڼه.

### د ننگرهار ورځپاڼه ۱۰۰ کلنه شوه

د ننگرهار ورځپاڼه له نن څخه ۱۰۰ کاله وړاندې د لومړي ځل لپاره چاپ شوه.




په لومړيو ورځو کې د ننگرهار ورځپاڼې سيمه ييز او فرهنگي مطالب خپرول، خو وروسته يې ورو ورو د لومړي لاس ورځپاڼو په کتار کې د نړۍ له گوټ گوټ اقتصادي او فرهنگي خپرونې پيل کړې.

په اوس وخت کې د مالي امکاناتو د نشتوالي له امله د ننگرهار ورځپاڼه په اونۍ کې يو ځل د ۵۰۰ تيراژو په شمېر چاپېږي.

د ننگرهار د اطلاعاتو او فرهنگ رئيس رحيم الله خوږيانې وايي، کوښښ کوي د مالي امکاناتو په برابرولو سره د ننگرهار ورځپاڼې د تيراژ زيات او د پخوا په شان هره ورځ چاپ شي.

سرچينه: http://www.bakhtarnews.com.af/pashtu/culture/item/94622

### تازه چاپ شوي آثار

**د شلمې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې د پښتو ادب د پرمختيايي بهير څېړنه (۱۹۰۱- ۱۹۵۰م):** څېړنوال سيد نظيم سيدي په (۵۵۰) مخونو کې ليکلى او د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست له خوا په ۱۳۹۸ هـ. ش کال چاپ شوى دى. دا کتاب د پښتو ادب تاريخ په برخه کې نوي او څېړنيز مواد څېړونکو او د دې برخې مينه والو ته وړاندې کوي.




**فرهنگي- ادبي پېښليک:** څېړنوال محمد اصف احمدزي ليکلى او د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست له خوا په ۴۳۰ مخونو کې د ۱۳۹۸هـ. ش کال په وروستۍ مياشت کې چاپ شوى دى. دا د ۱۳۹۲ کال له قوس نه د ۱۳۹۷ کال د حوت تر پايه فرهنگي او ادبي پېښې دي.




*د ۱۳۹۹ل کال د وري مياشتې فرهنگي پېښليک*

### څېړنپوه نصرالله سوبمن منگل وفات شو

د علومو اکاډمي د بشري علومو د برخې پخوانى مرستيال او د پښتو څېړنو د بين المللي مرکز متقاعد علمي غړي څېړنپوه نصرالله سوبمن منگل د ورپېښې ناروغۍ له امله د ۱۳۹۹هـ. ش کال د وري په ۷مه د پنجشنبې په ورځ د سهار په کابو ۷ بجو خپل ځان حق ته وسپاره. »انا لله و انا اليه راجعون.«

اروانښاد سوبمن منگل له کابل پوهنتون څخه تر



فراغت وروسته د دغه پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو د پوهنځي د تاريخ په څانگه کې د پوهيالي په علمي رتبه باندې د دندې تر اجرا کولو وروسته د پښتو څېړنو په بين المللي مرکز کې د علمي غړي په توگه په کار پيل وکړ چې په دې مرکز کې يې د علمي منشي په توگه هم دنده تر سره کړې ده.

د افغانستان د علومو اکاډمي تر تأسيس وروسته دوه وارې يې د دې اکاډمي د بشري علومو د برخې د مرستيال په توگه دنده تر سره کړې او په ۱۳۹٦ش.کال له دندې څخه تقاعد شوى دى.

اروانښاد سوبمن منگل د علومو اکاډمي يو پياوړى عالم، څېړونکى، ليکوال او مترجم و چې د تاريخ، جغرافيې، اتنوگرافي او په داسې نورو برخو کې يې گڼ شمېر آثار تأليف او ژباړلي دي. د ډېرو څېړونکو د علمي-څېړنيزو پروژو لارښوونه يې کړې، علمي مقالې يې ليکلې، په ډېرو آثارو يې تقريظونه کښلي، په گڼو علمي-څېړنيزو سيمينارونو کې يې فعاله او کارنده ونډه اخيستلې ده.

د اروانښاد سوبمن د وفات له امله د افغانستان د اسلامي جمهوريت د جمهور رئيس محمد اشرف غني په پيغام کې راغلي دي: »اروانښاد نصرالله سوبمن منگل چې په پوهنتون کې يې تدريس کړى او ډېر کلونه يې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د فعال غړي په توگه د هېواد خدمت کړى، د يوه زيار کښ ژباړن په توگه هم د هېواد د فرهنگ او تاريخ د بډاينې لپاره ډېر څه کړي دي. د هغه مړينه د افغانستان لپاره يوه ضايعه ده.«

### د رحماني ۷ عنوانه کتابونه چاپ شول

د بغلان پوهنتون د استاد او ليکوال پوهنيار گل رحمان رحماني ۷ عنوانه کتابونه تازه چاپ شوي دي.

دغه کتابونه په لاندې ډول دي:

**۱ - له کړکۍ هاخوا:** د نړۍ ادب مضمون مرستندوى کتاب دى چې د نړيوالو ادبي اثارو، اديبانو او ادبي مسايلو په اړه شاوخوا شل موضوعات په کې را ټول شوي او ۲۷۰ مخه کېږي.

**۲ - د ژباړې تيوري:** په دې اثر کې د ژباړې پېژندنه،




ځانگې او د ژباړې نوې لارې ښودل شوي او زيات تمرکز پر عملي ژباړه شوى دى. دا کتاب چې نږدې ۲۰۰ مخه کېږي، د ژباړې مضمون د تدريسي موخې لپاره ليکل شوى او ليکوال په کې خپلې تجربې بيان کړې دي.

**۳ - د ادبي کره کتنې مشال:** د ادبي کره کتنې د پېژندنې او عملي لارو چارو په اړه




دا کتاب په اتو بېلابېلو څپرکو کې ليکل شوى، له کورنيو او نړيوالو مأخذونو په کې گټه اخيستل شوې، د هر ژانر د کره کتنې لار او کودونه په کې بيان شوي، په پاى کې د ادبي کره کتنې لنډ اصطلاحي قاموس هم لري.

**۴ - د ليکوالۍ اصول:** د ليکوالۍ اصول کتاب هم تدريسي اثر دى چې ۱۴ څپرکي او ۲۸۰ مخونه لري، له تيورۍ زيات په کې پر




عملي لارو چارو کار شوى، د تورو له ليکوالۍ را نيولې د کلمو، جملو او پراگرافونو او لنډو ليکنو اصول په کې وړاندې شوي او د ليکوالۍ پر عادتونو هم بحث شوى دى.

**۵ - د غم زامن:** دا د ليکوال د نوو لنډو کيسو ټولگه ده چې ۱۴ کيسې او يوه داستاني ژباړه په کې راغلي او ۱۳۰ مخونه لري. تر دې وړاندې هم د ليکوال درې نورې داستاني ټولگې (وروستى فصل، بې وطنه، خاورې او بادونه) خپرې شوې دي.

**٦ - تر غبار لاندې چينه:** دا شعري ټولگه ده چې د شاعر وروستۍ شاعري په کې را ټوله شوې، غزلونه او ازاد نظمونه په کې دي. تر دې وړاندې هم د شاعر درې ټولگې خپرې شوې دي.

**۷ - تر شنه اسمان لاندې:** دا د ليکوال نوى ناول دى. د ناول موضوع په ودانيزو شرکتونو کې اداري فساد، نامسلکي کارونه، د بلخ پوهنتون ودانۍ کې يوه پاکستاني انجنير رول، له نا انډول سره مينه، د چټک او خام پرمختگ زيان او نورې ټولنيزې ناخوالې بيان شوې دي. دا د ليکوال اتم ناول دى.

هېره دې نه وي چې دا ناول گودر خپرندويه ټولنې خپور کړى او نور ټول پورته ياد شوي اثار له کابله سمون خپرندويه ټولنې چاپ کړي دي.